# SOUND CHANGE

# صوتي بدلون

Dr. Faqir Muhammad*

**Abstract:**

Languages is a collection of sounds and these sounds changes with the change of society. Language also change like other things time by time and this change usually take place slowly and un expected way. The process of phone, meaning and word change continuously going on in every language -

There can be many reasons of phonetic changes - these are like change in point of articulation, manner of articulation, borrowing sound change, insertion, deletion, assimilation, dissimilation and metathesis. The hearing impairment, speech problem, accent differences and even with the efforts of linguist phonetic change is possible.

**Key words:** phonetic change point and manner of articulation changes, insertion, deletion, assimilation, dissimilation, metathesis.

ژبه د غږونو مجموعه ده او ډېر اهميت ځکه لري چې که دا غږونه نۀ وو نو د ژبې د وجود او پوهې راپوهې دا سلسله به هم نۀ وه. د غږونو په وجه وېناد ژبې شکل موندلے دے. ځکه ددې منظمه، علمي او سائنسي څېړنه د اهميت نه خالي نۀ ده. په خصوصيت سره د يوې مخصوصې ژبې غږونه د هغه ژبې په وجود کښې اهم مقام لري. د غږونو پېژندنه، جوړښت، په دې کښې تغير او توليد تر غوږ سفر او تر اورېدلو پورې ټولې د غږ پوهنې مرحلې او دندې دي.

په ژبه د څېړنې تاريخ که هر څو لرغونے دے او د يونان د ترقۍ د دې سره نخښې څرګندېږي. په اولسمه، اتلسمه پېړۍ کښې فرانس او نورو ملکونو کښې د ژبپوهنې زيار څرګندېږي خو په اصلي بنيادونو نولسمه اوشلمه پېړۍ د ژبپوهنې د ودې دور دے. په خصوصيت د غږ پوهنې علم د شلمې پېړۍ پېداوار دے. او په سائنسي بنيادونو دې علم ته پاملرنه شوې ده. دې د پاره د سائنسي الاتو

* Lecturer Pakhtunkhwa Study Centre Bacha Khan University Charsadda

استعمال هم شوې دے۔ چې غږ څنګه پېدا کېږي۔ څنګه اوربدلے شي۔ په څۀ طريقه سفر کوي او کوم قسم بدلون سره مخ کېږي۔

صوتي يا غږ بدلون: Phonetical Change

ژبه د غږونو جوړه ده او د ټولنې د پرمختګ او بدلون سره مسلسل بدلون او نوښت سره مخ کېږي۔ څنګه چې معاشرتي ژوند کښې د ارتقائي سفر په نتيجه کښې هره ورځ نوې نوې ايجادونه کېږي۔ د آرام او سکون او نورو معيارونو کښې د پرمختګ نوي اړخونه اورنګونه پېدا کېږي۔ په سياست، معيشت، کلتور، او ټولنه کښې نورې او نوې اضافې کېږي۔ يا څۀ ځيزنو او کارونو کښې کمې زياتې راځي۔ ډېر ناليدلي او نوي طرزونه او طريقې وده مومي او څۀ مستعمل او زاړۀ، قدرونه، روايات او عام ځيزونه له مېنځه ورک شي خپل ارزښت او اهميت بائيلي۔

ژبه هم د دغه نورو ځيزونو په ځېر په خپل اصل شکل کښې تل تر تله پاتې کېدے نۀ شي۔ ځکه چې دا د خپل چاپېرچل تر جماني کوي او کوم ځيز چې ټولنيز ارزښت بايلي هغه په ژبه کښې ختم شي۔ لفظونه هم لکه د نورو وګړو مري هم او پېدا کېږي هم۔ ځکه چې ژبه هم په يو ځائے او شکل نۀ پاتې کېږي۔ همېشه خورېږي او بدلېږي رابدلېږي۔ د نورو ژبو اثر هم اخلي او د دې نه بغېر ترقي نۀ شي کولے۔ ۱

ژبه د خپلې ټولنې تابع وي۔ د ټولنې بدلون سره بدلېږي او ټولنه هم متاثره کوي۔ په غږونو کښې بدلون فطري وي۔

> "د فطرت د نورو اشياؤ په ځېر ژبه هم د تغير له قانون څخه ازاده نۀ ده۔ په دې کښې اوښتون را اوښتون کېږي۔ او هم تل به دغسې واقعت کوي خو په داسې ژبو کښې چې په هغو کښې يوه لهجه د ادبي معيار وګرځي کښې دومره پوړيز (تدريجي) وي چې په يوه زمانه يا د يو نسل په ژوند کښې هغه دومره نۀ راپورته کېږي چې د ژبو په پوهېدنه کښې کوم مشکل پېدا کېږي۔" ۲

د ټولنيز بدلون او پرمختګ سره دعام ژوند او استعمال ځيزونه د کرنې او روزنې لارې، د صنعت او حرفت طريقې او نورو الاتونوښت هم پېدا کېږي۔ نوې تکنيک او ټيکنالوجي خپل اثرات څرګندوي۔ ټولنيز ژوند سره ژبه هم متاثره کوي او بدلون سره يون جاري ساتي۔ د سائنس او ټيکنالوجي پرمختګ د ژبې په تګ کښې خپل کردار لوبوي۔ د ژبې په غږ، صرف و نحو او معنو کښې رنګونه شيندي خو فرق

صرف دا دي چې د سائنسي څانګې پوهانه دغه پرمختګ په شعوري ډول وړاندې بوځي او ژبه کښې غېر شعوري وي. ۳ دغه بدلون ډېر په مزه مزه کېږي او په دغه مخصوص دور کښې په ښکاره توګه نهٔ محسوسېږي خو د بدلون دغه عمل په هره ژبه کښې په هر دور کښې روان وي.

"اواز، نحوه او معنې په ټولو ژبو کښې پرله پسې د بدلون او تحول حالت کښې دي. د يوې ژبې ويونکي عموماً دغه تحولاتو او تغيراتو ته متوجې نهٔ وي. ځکه انساني ژبه د افهام او تفهيم وسيله ده او يوائې د يوې وسيلې په توګه، دغه اواز، نحوي، مانيز او کلموي تحولونه، دودونه ژور دي چې بيخي ژبې پر بل مخ اړوي."۴

د ژبې بدلون د پوهانو او څېړونکو له خوا کېږي او تشريح کېږي هم، د دې د پاره مسلکي هڅې په اراده او کوشش روانې وي. هم دغه بدلون په ټولنه کښې په غېر ارادي او اصلاح او بدلون د ژبې د قاعدې او اصولو مطابق کېږي. عام خلق دغه بدلون په بې قاعده طريقه او اتفاقي انداز سره هم کوي. دې اړخ ته پام هله راګرځي چې غږيز نظام بدلون سره مخ شي نو د ويونکو او ليکونکو ورته پام شي. د دنيا هره ژبه کښې اوازونه د معنو بدلولونه بغېر کمېدلے زياتېدلے يا وړاندې ورستو کېدلے او په بل غږ بدلېدلے هم شي.

غږ کښې د بدلون مختلفې وجې کېدلے شي چې په ژبه کښې د بدلون سبب جوړېږي. په دې کښې په يو کلمه کښې د غږ زياتوالے يا کمې هم کېدلے شي. تقليب يا د غږ وړاندې وروستو کېدل هم کېدې شي. د غږ په مخرج يا ادائيګۍ مقام کښې بدلون په وجه هم کېدلے شي.

محی الدين قادري زور ليکي:

"صوتی تبدیلیوں کی سب سے پہلی اور اہم وجہ عضو پاتی ہے-ایک نسل دوسری نسل کے لئے جو لسانی ورثہ چھوڑ جاتی ہے-وہ بعینہ ایک اور معین نہیں ہوتا-یہ یاد رکھنا چاہئے کہ ہر نسل کے بعد اس کی اوازیں اور اس کے عضویاتی عادات واطوار غیر محسوس طور پر کچھ نہ کچھ تبدیلی پاتے ہیں-یہ تبدیلی اکثر نتیجہ ہوتی ہے-زبانوں کے اثر کا-بعض دفعہ ایسا بھی ہوتا ہے کہ جب کسی قوم کی ایک نسل کو ایک اجنبی زبان بولنے والوں سے سابقہ پڑتا ہے تو اس اجنبی زبان کی اوازیں اس نسل کے اپنے لفظوں پر جو عمل یا رد عمل کرتی رہتی ہیں ان کے نتیجے کے طور پر اس تمام نسل کے مخارج تلفظ آہستہ آہستہ اپنی جگہوں سے ہٹتے ہیں-"۵

د ژبې يا غږ بدلون د نورو ژبو تاثر کښې هم کېږي که چرې مونږ يوه جمله د يو داسې تعليم يافته انسان نه واورو چې نورې ژبې ئې هم زده وي او د هغۀ د هم هغې جملې موازنه د يو بې تعليمه او سوچه ژبې ويونکي سره وکړو نو ښکاره به شي چې د دواړو د ادائيګۍ انداز به فرق لري. يواځې دا نه کله کله داسې هم کېږي چې يو نسل د خپل خاندان، پلار نيکۀ د وېنا او غږ ادائيګۍ انداز نۀ شي خپلولے. او دغه د غږ ادائيګۍ مخصوص طرز د وخت سره سره ختم شي يا ژبه کښې موجود په بل غږ بدل شي.

کله کله داسې هم وي چې يو غږ په سمه طريقه اورېدلے شوې نۀ وي يا اورېدلے شوې سم وي خو د هغې ادا کولو کښې څۀ مشکل وي نو بيا هم په سمه توګه نۀ ادا کېږي. د دې زيات اثر په کمزورو اوازونو يا په حروف علت يعني خپلواک وي نو دا يا خو ورک شي يا خپل اصل حالت کښې پاتې نۀ شي.

دا قسمه اثرات د يوې ژبې په مختلفو لهجو کښې هم په نظر راځي .لکه لوبه د صوابۍ خلق ورته لبه وائي او وريجو ته ريجې، خاورې ته خاره وائي. د باجوړ خلق شلول ته شکول او لرې شه ته درې شه وائي .دغسې مونږ، موږ، دروغ دروېغ، کوږ کوژ، مور مير، پلار پلور، نورو لهجو کښې وئيلے شي.

د بلې ژبې غږ د نۀ پوهېدلو، نۀ اورېدلو يا ادائيګۍ کښې د مشکل په شکل يا اسانتيا په خاطر بدلون مومي. لکه لېنټرن، لالټېن او نور مختصر لاټېن وئيلے شي. نمبر ته لمبر

| | | | |
|---|---|---|---|
| جناح | ګناه | سټيشن | ټيشن، ټيسن |
| نقد | نعد | محتاج | متاز |
| طعام | اتام | نعش | لاش |
| جدا | جلا | معصوم | ماشوم |
| جماعت دار | جمعدار | وقت | وخت |
| شبکور | شمکور | | |

د دې نور مثالونه ډېر دي او په هر ژبه کښې وجود لري ځکه چې ژبه په يو حالت کښې نۀ پاتې کېږي. لفظونه، نحوي او صرفي عناصر او غږونه په غېر محسوس انداز بدلېږي. ۷

دا هم ضروري نۀ ده چې د غږ د بدلون سره دې په کلمه کښې بېخي نوې غږ پېدا شي. په دې بدلون کښې دا هم کېدے شي يو يا زيات غږونه هم په دغه ژبه نورو موجودو غږونو سره بدل شي په عامه توګه د بل نزدې غږ سره بدل شي. يا خذف شي. خپلو کښې بدلون په عامه توګه د مشترکو حاصيتونو لرونکو غږونو کښې کېږي. ۸

داسې بدلون هم کېدلے شي چې وړاندې يا وروستو خپلواک فونيم د ادا کولو په وخت په مخرج يا د ادائيګۍ په مقام کښې فرق پېدا کېږي. او په غږونو کښې ډېر معمولي تغير محسوسېږي. د دې فرق احساس نه د ويونکي او نۀ اورېدونکي کوي. په سائنسي اله سپېکټو ګراف (Specto Graph) معلومولے شي. ۹

د غږونو د بدلون وجوهات دا دي. د اورېدو فرق، د ادائيګۍ مسئله، د اسانتيا په خاطر، وېنا کښې تيزي، د اتلانو او مشرانو تقليد، ناواقفيت، مماثلت او د بلې ژبې اثر يا پورويزونو يا مستعاريت د دې سببونه کېدلے شي. دې کښې د ادائيګۍ په مقام کښې بدلون، د ادائيګۍ طريقه، تخالف (Dissimilation) ، انجذاب (Assimilation) خذف يا لوېدل (Deletion)، اضافه (insertion) تقليب يا ادلون بدلون (Metathesis) وغېره سره غږ کښې بدلون کېږي.

خذف، لوېدل: (**Loss, Deletion**)

خذف په خپلواک (Vowel) او بې واک (Consonant) دواړو کښې کېږي. د کلمې سر، مېنځ او اخر کښې هم ځان ښکاره کوي. پښتو ژبه کښې خپلواک په نورو خپلواکو بدلېږي او د هغې خاصيت خپلوي او بې واکو سره هم يو ځاے کېدلے شي.

د خذف مثال محمود مرهون "تاريخي ژبپوهنه" کښې داسې بيانوي.

"په پښتو ژبه کښې اکثر يو هجائي کلمې چې متحرک الاخيره دي د اوستا په ځېر په ساکن الاخير باندې بدل شوې دي. مثلاً ستن بړستن، مياشت لويشت او دې ته ورته زيات شمېر نورې کلمې شته چې اخر کښې ئې له تاريخي او اصلي حالت څخه زور دے او بيا په منځني

حالت کښې دغه زور په زورکي اوښتي لکه (چاړۀ) چې په اصلي حالت کښې په اخر کښې زور دے مګر اوس په زورکي اوښتې." ۱۰

د بره مثالونو اصل د ليکونکي په خيال شنه، بړستنه، مياشته، او لويشته دي چې اخره کښې زور لري خو اوس ترې زور خذف شوے دے.

په دې غرېز بدلون کښې د کليمې په سر منځ يا پائے کښې د وخت په تېرېدو سره لوړ تغيرات رامنځته کېږي. په دې مانا چې د کلمې له سر، منځ يا پائے څخه يو غږ يا فونيم لوېږي او په کلمه کښې د وخت په تېرېدو سره بدلون رامنځته کېږي.۱۱

په دې بدلون کښې د يو فونيم يا يوې يا سېلاب (Syllable) کمې د کلتوري يا ټولنيز بدلون په سبب هم کېدلے شي. لکه

| | | | |
|---|---|---|---|
| سيند | سين | راکړه | راکه |
| دروند | درون | واخله | واله |

کله د اسانتيا په خاطر هم داسې قسم خذف يا کمون مخې ته راځي دا کمېدنه يا غورزېدنه د مورفوفونيمک بدلون بللې شي. او د کلمې يا مورفيم نه يو غږ غورځېږي. ۱۲

د دې مثال: ښلوښت ښلوښ

يا د دې نه وړاندې بره ذکر شوې نمونې دي.

کله چې يو غږ ادائيګۍ کښې ګران وي د اسانتيا د پاره هم کمولے شي، مثال په طور لېټرن د لاټين په شکل او ستېشن په ټېشن دے.

اول سر کښې کمېدنې (Aphaeresis) مثالونه دا دي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| انګبين | ګبين | ورور | رور |
| وريجې | ريجې | نمونځ | مونځ |
| برېښم | رېښم | وړوند | ړوند |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ازمرے | زمرے | | |

منځ کښې کمېدل: **Syncope**

| | | | |
|---|---|---|---|
| خاوره | خاره | سپور | سور |
| سرپټې | سپوټے | خپور | خور |
| جمات | جمات | کونډتون | کونتون |
| دکاندار | دکندار | تبار | تبر |
| واخله | واله | لوبه | لبه |

اخره کښې غږ کمېدل (Apo cop)

| | | | |
|---|---|---|---|
| دروند | درون | اسپ | اس |
| سیند | سین | ابدست | اودس |
| ثلوېښت | ثلوېښ | | |

دغسې د عربۍ کندوج د پښتو کندو دے او امېج آم دے.

په مختلفو لهجو کښې هم د غږ کمېدل مخې ته راځي لکه پېښور بوڼ په وزيرۍ کښې وڼ دے چې (ب) خذف شوې ده. دغسې ليدل هغوي لدل وائي چې (ی) ترې کمه شوې ده.

غږيز زياتوالے: **Insertion, Epenthesis**

زياتېدل، واخلېدل، ادخال

په دې کښې په يوه کلمه کښې د غږ زياتېدل کېږي. د دې دوه قسمونه دي کله چې د لفظ يا کلمې په سر کښې زياتوالے Epenthesis او په مېنځ کښې زياتېدل Prostheses بللے شي. د کلمې په اخر کښې هم زياتون کېدلے شي.

د دې مثالونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| سکول | اسکول | سټېشن | اسټېشن |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ارمان | ارماند | چمن | چمند |
| سور | سپور | ګبین | انګبین |

په لهجو کښې هم دغه قسم زیاتون تر نظره کېدلے شي.

| پېښوری لهجه | وزیری لهجه | پېښوری لهجه | وزیری لهجه |
|---|---|---|---|
| غم | غام | در | دار |
| دم | دام | خر | خار |
| مم | مام | عزت | ایزات |
| ست | سات | غېرت | غېرات |

۱۳

| پېښوری لهجه | بنوڅی لهجه | پېښور لهجه | بنوڅی لهجه |
|---|---|---|---|
| بچي | بچیون | زمري | زمریون |
| لرګي | لرګیون | غمے | غلماے |
| ملا | ملایون | لېونے | لیواناے |
| زلمے | زلمیون | ور | وار |
| لوګے | لیګاے | لار | لیار |

دغه شان د زیاتون نور ډېر مثالونه دي:

په غږ کښې د سېلاب اضافه هم کېږي. یا پرې یو خپلواک یا واول سېوا کېږي. د دې وجه دا وي چې کلمه کښې راتلونکي مسلسل دوه بې واک اردو، پښتو او څۀ نور ژبو کښې نۀ شي ادا کېدلے یا ډېر مشق غواړي. ځکه پر خپلواک زیاتولے شي او اسانولے شي. ۱۴

د دې مثالونه دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کرْم | کَرَم | صَدْر | صدَر |
| بْدر | بدَر | قَدْر | قَدَر |

| | | | |
|---|---|---|---|
| عقْل | عَقَلْ | قَتْل | قَتَل |

دغسې نور د زياتون مثالونه هم ډېر دي.

تقليب، ادلون بدلون: (Metathesis)

د بدلون په دې قسم د غږونو تر منځه ادلون بدلون کېږي. غږونو کښې وړاندې وروستو والے راځي. په ژبو کښې د دې بدلون سبب د لهجو توپير هم کېدلے شي. بل د اسانتيا په خاطر دريم سبب ئې ژبنۍ ستونزه ده چې دغه کلمې ادا کولے نۀ شي. **۱۵** لفظ کښې د يو بل ته نزدې غږونو وړاندې وروستو کېدلو ته تقليب **۱۶**

که په يو لفظ کښې دوه يا ډېر اوازونه خپلو کښې مقام بدل کړي نو دا تقليب ګڼلے شي. کله کله يو اواز د خپل مقام نه بل ته لاړ شي. او د غږونو تر مېنځ ځاے شي. **۱۷**

تقليب يا ادلون بدلون يو بل پسې يا فاصله کښې هم کېدلے شي. د خپلواک تر منځ او بې واک تر مېنځه هم، او د دواړو تر منځه هم. او د دواړو تر منځه هم ممکن دے. د متصل مثال تمغه، تغمه. جرنل جنرل، سګنل، سنګل

د تقليب مثالونه دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| غږ | ږغ | دفتر | دوتر |
| | | پګړۍ | پړګۍ |
| وران | نوار | مزکه | زمکه |
| ګرېوان | ګېروان | بورقه | بوقره |
| سپړلے | پسرلے | زبېرګے | زوېرګے |
| زبرګ | بزرګ | سخا | خسا |
| سروټکي | سکروټې | ښکلے | کښلے |

د غږ ادائيګۍ مقام بدلېدل (Point of Articulation Change)

دا قسم بدلون د ایلوفون په دوران کښې هم کېدلے شي۔ یو غږ د بل اثر واخلي او دغه قسم تو پیر پېدا کړي۔ او د تاریخي غږ پوهنې (Historical Phonetics) څېړنه کښې هم موندلے شي، لکه په یو وخت کښې د انګرېزی /ndt/ فونیمونه غاښیز وو۔ په تېرو پېړو کښې ئې مخرج رو رو په شا کېدلو۔ تر دې چې اوس اووریز (Alveolar) دے۔۱۸

دا قسم بدلون هر وخت په ژبه کښې روان وي خواولس پرې نۀ پوهېږي ۔ کله چې غږیز نظام (Phonological System) بدل شي نو بیا د ویونکو او اورېدونکو پام ځان ته ګرځولے شي۔ د یو فونیم مخرج چې مختلفو کلمو کښې بدل شي۔ نو دغه ایلوفون بللے شي۔ دا ایلوفون هم د غږ بدلون راولي۔ داسې چې یو یو فونیم شونډیز وي هغه غاښیز شي۔ داسې نور :

”د یو فونیم ځینې ایلوفونونه د وخت په تیریدو سره بل یوه فونیم له ایلوفونو سره ورته والے مومي او ښائي په بشپړ یا نیمګړي ډول سره ګډ شي۔ په دې ډول غږیزو تغیرونو کښې ټول هغه ایلوفونونه چې تولید کښې سره ورته دي تغیر کوي۔“۱۹

غږیز بدلون هغه دے چې د یو غږ مخرج بل ته واوړي۔ یا د اواز طریقه ادائیګي ( Manner of Articulation) بدلون ومومي۔ بیا به دا فونیم کښې بدلون نۀ وي۔ کله کله یو ژبه کښې دوه فونیم وي یو کمزورې او بل قوي یا طاقتور وي نو کمزورې په مزه مزه نور کمزورې شي او که بندشي Stop غږ وي۔ هغه د صفیري Fricative یا د شپېلي غوندې غږ ته نزدې شي۔ ۲۰

د خپلواک (Vowel) غږ غورزېدنه چې د بلې ژبې په مقابله کښې یا د خپلې ژبې بلې لهجه کښې دغه توپیر لري۔ د اوستا زور /a/ په زورکي /ə/ بدلیږي۔

پښتو اوستا پښتو اوستا پښتو اوستا

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سل | Səl | مزې | Məzai | ستا | Sata |
| ستر | Stər | ستارا | Stara | پینځۀ | pənza |

دغسې زور په و (/u/ /a/) یا (/a/ /e/) او (/a/ /i/ ) او نور بدلون هم لرلې شي۔

هم دغه رنګ بدلون د خپلې ژبې مختلفو لهجو کښې هم کېږي. لکه که مونږ پېښوری، وزیری، بنوڅی د لهجې او بیا معیاري ژبې ته خیال وکړو نو دغه قسمه بدلون لیدلے شو. د خپلواک د بدلون اختلاف په غږ کښې ښکاره دے. په دې کښې الف lal وزیری کښې په معروف واو lul بنوڅی لهجه کښې په مجهول واو lol بدلېږي.

| پېښوری لهجه | وزیری لهجه | بنوڅی لهجه | معیاري ژبه |
|---|---|---|---|
| زان | ځون Zun | ځون zon | ځان |
| کتار | کتور Katur | کتور Kator | قطار |
| ایسار | ایسور isur | ایسور Isor | ایسار |
| بیمار | بیمور Bimur | بیمور Bimor | بیمار |
| آزار | āzur | ازور āzor | ازار |

۲۱

دې د مجهول واو lol په مخصوصه /ی/ چې د زېرکي غږ لري بدلېږي.

| پېښوری لهجه | وزیری لهجه | پېښوری لهجه | وزیری لهجه |
|---|---|---|---|
| مور Mor | مېر Mer | ورور Wror | ورېر Wrer |
| کور Kor | کېر ker | | |

د معروف واو /u/ په معروفه /ي/ /i/ اوړېدل

| بنوڅی لهجه | پېښوری لهجه |
|---|---|
| لیر Lir | لور Leer |
| سیر Sir | سور sur |
| نیر Nir | نور Nur |

د غږ په بل غږ بدلون: په ژبه کښې داسې هم کېږي چې د يوې کلمې غږ په بل غږ واوړي. دا قريب المخرج او بعيد المخرج دواړه قسمه کېدلے شي. په دې کښې يو غږ د بل ځاے نيسي خو مانا نۀ بدلوي. دا سببونه هم د کم علمۍ، د اورېدو نقص، د بلې ژبې اثر يا د تاريخي سفر نتيجه هم کېدلے شي.

ث ـ ت: مثل، متل، ميراث، ميرات

ع ـ ا مشعل، مشال، لعل، لال، عصا، امسا

ق ـ خ: وقت ـ وخت، طاق ـ تاخ

هـ ـ ا قهر ـ قار، نهر ـ نار، نعره ـ ناره

ز ـ ژ: روزه ـ روژه

ږ ـ ژ: کوږ ـ کوژ، غوږ ـ غوژ، موږ ـ موژ

ل ـ ک: شلول ـ شکول

ف ـ و: نفس ـ نوس

د ـ ذ: استاد ـ استاذ

ب ـ و : ببخ ـ وبخ، سبب ـ سبو

ب ـ م: شبکور ـ شمکور

ج ـ ګ: جناح

پور، مستعار غږ کښې بدلون: **Borrowing Sound Change**

په دنيا کښې ديوه ژبه هم سوچه او خالصه نشته، هره يوه ژبه د نورو ژبو اثرات اخلي او دغه سرمايه به خپل وجود کښې لري. ددې ډېر سببونه دي او د هرې ژبې مجبوري ده چې د اظهار د پاره د نورو ژبو لفظونو ته احتياج لري. او د دې نه بغېر خپل وجود برقرار ساتلے نۀ شي. پښتو ژبه کښې دغه سفر له پخوا راروان دے او په سوؤنو عربي، فارسي، انګرېزي، اردو او د نورو ژبو لفظي سرمايه ئې خپل لمنه کښې ځاے کړې ده، کله ئې مستعار لفظ او غږ هم هغسې اخستې او کله ئې پکښې بدلون، کمې، زياتې کړې دے د دې وجه دا ده چې يا خو دغه لفظ وئيلو کښې ستونزه وه يا د اسانۍ او ناپوهتيا په

وجه دغه بدلون شوے دے. په جدید دور کښې انګرېزي بین المللي ژبه ده نو د وېنا هره ژبه ئې متاثره کړې ده. په پښتو هم جوت اثرات لري. پخوا، عربۍ او فارسۍ پرې ژور اثرات پرېښي دي. د ترقي یافته قوم ژبه هم په نورو ژبو اثرات برېباسي. د حاکم ژبه د محکوم په ژبه زورور اثر غورزوي. په مختلفو وختونو کښې د عربۍ بیا فارسۍ او ورپسې انګرېزۍ خپل زور ښکاره کړې دے. پښتو ژبه د دغه اثراتو نمونې په سلګونو زرګونو دي.

دا یو فطري قانون دے. چې د مختلفو وجوهاتو له کبله د مستعار توري په شکل کښې یا په تلفظ کښې کله کله بدلون پېدا کېږي او په بدل صورت کښې د ژبې حصه جوړېږي. دغه بدلون فطري عمل وي د چا د خوښې نا خوښې د شعوري کوشش نتیجه نۀ وي. ۲۲

ددغه ژبو لفظونه پښتو کښې یا خو په اصلي شکل کښې موجود دي یا د مستعاري ترجمې په رنګ او د معنوي یا لفظي بدلون په صورت کښې موجود دي. د څۀ کلمو یا لفظونو په غړونو کښې کمې زیاتې هم راغلې دے. دغه بدلون کله کله د یو نه زیاتو غړونو کښې مخې ته راځي. په جدید دور کښې د انګرېزۍ اثر زیات نو د دې مثالونه اول وکړم چې د مختلفو الاتو او څیزونو نومونه په غړونو کښې بدلون لري.

انګرېزي پښتو:

| انګرېزي | پښتو | انګریزي | پښتو |
|---|---|---|---|
| ریورس | ریوس | اینګل آئرن | انګلارن |
| ډرائیور | ډریور | سوزوکي | سوزکے |
| Shock Absorber | شاقبزر | ډاټسن | ډاکسن |
| سلېف سټارټ | سلف سټاټ | ایکسیډنټ | ایکسډن |
| پولیس | پولس | ټائېر | ټېر |
| کمپني | کپني | سپیډ | سپیټ |
| سائیکل | سیکل | وائرلیس | والس |
| پېچ کش | پېشکش | هېلو | الو |
| سرټیفیکیټ | سابیټکټ | سکریو ورینچ Screw Wrench | سکو رېنچ |
| ټیوب لائیټ | ټوپ لیټ | وېسټ کوټ | واسکټ |
| کوچ مېن | کوچوان | ټریکټر | ټیکټر |

فارسي پښتو

| فارسي | پښتو | فارسي | پښتو |
|---|---|---|---|
| خداوند | خاوند | پرندر | پلندر |
| ابدست | اودس | پائیکوب | پېکو |
| شادباش | شاباش | انروت | امروت |
| پیغاره | پېغور | آزمائش | ازمېښ |
| بارگاه | درگا | بزرگ | زبرگ |
| شبکور | شمکور | روزه | روژه |
| بالائي | ملائي | افیوني | اپیمي |
| تفنګ | ټوپک | جاروب | جارو |

اردو پښتو:

| اردو | پښتو | اردو | پښتو |
|---|---|---|---|
| هړتال | اړتال | کاجل | کجل |
| پتهړي | پاټلۍ | بنسیا | بهیا |
| شوربا | ښوروا | دیوار | دیوال |
| گریبان | ګریوان | | |

عربي پښتو:

| عربي | پښتو | عربي | پښتو |
|---|---|---|---|
| فهم | پام | زکوٰة | زکات |
| طعام | اتام | نقد | نغد |
| محتاج | متاز | بنج | بنګ |
| جماعت | جومات | مثل | متل |
| جناح | ګناه | کندوج | کندو |
| امبج | ام | طازج | تازه |
| نفس | نوس | | |

کله کله په ادائیګۍ یا تلفظ کښې هم بدلون راځي. په دې صورت کښې د اصلي ژبې د لفظ د غږونو ادائیګۍ په غلطه طریقه کېږي. چې یوه ژبه کښې عام شي نو بیا د ژبې په دغه شکل حصه شي. لکه د عربۍ سُوال، شُعور، خُلیه، خِزانه او سُفارش په پښتو ژبه کښې په دغه ترتیب داسې ادا کېږي. سَوال، شَعور، خَلیه، خَزانه او سَفارش.

په ژبه کښې د بدلون دې عمل ته په بده سترګه نۀ شي کتلے او اکثر دا بدلون د ژبې د اصولو او قاعدو سره سم کېږي. دا قسم بدل شوي لفظونه او غږونه د ژبې معیار او مزاج ته زیان هم نۀ رسوي. په ژبه کښې ځان ځاے پېدا کوي او حصه ئې جوړېږي. خپل غږیز بدلون سره راشي نو پښتو کښې ورته مفغن وئیلے شي. دغه ادلون او د غږ تعیر په هره ژبه کښې عام وي. د حالاتو، معاشرتي، او تقاضو له د ژبې فراختیا کښې کردار لوبوي.۲۳

د دنیا هره ژبه کښې د غږیز بدلون دغه سلسله روانه او دوامه وي. دنیا نن سبا د "نړال کلي" حېثیت لري. په معاشرتي ژوند کښې د پرمختګ دوامه او تېزۍ سره روانه ده دغه اثر په ژبه هم پرېوزي. څنګه چې د قومونو او ملکونو په یو بل اثر وي دغه په ژبه هم وي. په اثر د کاونډي اولس په اثر کښې هم کېږي. د بېن الاقوامي اثر په نتیجه کښې هم وي. د استعماري قوت او مېډیا اثرات هم خپل کردار لوبوي. د بلې یا خپلې ژبې کلمه چې ادائیګۍ کښې ګرانه وي. د اسانۍ په خاطر ئې غږ کښې بدلون راځي. دا بدلون په غېر شعوري او غېر محسوس انداز روان وي. کله کله د ژبپوهانو له خوا په شعوري طور هم دغه قسمه بدلون ممکن دے.

## References

1 Ghazi Alam Deen, professor,Lisanee mutaleghe,Faisal Abad, Missal publishers.2015.p249.

2 Sarwaree,AbdulQadir, Jaba aw jabpohana,transalated by Dr Nasrullah Jan Wazeer, peshawer, Pashto Academey,Peshawe University,2018, p 68.

3 Chamtoo,Muhammad Qaseem.Dr,Da Pukhto jabe Phonologekee aw Morphologekee badloon,Samoon khparandoya tolana,1400L,P3.

4 Mahmood Marhoon,Tareekhee Jabpohana,Kabal,Jehan Dnanesh khparanduya tolana,1399L,P 355.

5 Zor,Qadree MaheeUdeen,Dr,Sutee taghayur wa tabadul,mashmoola,Urdu mein lisanee tehqeeq,murataba,professor Abdu star Delwee,Lahore,book tak,2018,p,49.

6 As above,p 5-6.

7 Sapir,Language, An introduction to the study of speech,Newyark.1942,p150.

8 Faiza butt,Urdu mein Lisanee tehqeeq,Lahore,Maghrebee Pakistan,Urdu Academy,2017,p 108.

9 Khaleel Siddiquee,Awaz shanasee,Lahore,Baken books,2015,p,108.

10 Tareehgee Jabpohana,p,37.

11 Muhammmad Usman,pohanyar,Umomy Jabpohana,Kabal,Jehan Danesh khparandoya tolana,1399L,P190.

12 Ghorbandee,Meera Jan,pohanwal, Da jabe mubadee,Kabal,Jehan Danesh khparandoya tolana,1399L,P175.

13 Nasrullah Jan Wazeer,Dr,Da Pukhtunkhwa Lehje,(Adition),Peshawer,Pasto Academy,Peshawer University,2021.p157.

14 Narang, Ghopee Chand,Urdu kee taleem Ke Lsanee pehloo,Delle,Azad kitabghar,1961,p 19.

1 Umumee Jabpohana,p191.

16 Bushra Akram,Dr, Jabpohana, Peshawer,Pashto Acadmy,Peshawer University,2018,p,191.

17 Gayan Chand,Professor,Aam Lisanyat,Lahore,booktak,2018,p404.

18 Wenferd Flef,Da Tareekhee Jabpohane Mubadee,translated by Bayazeed Asak,Kainat seraneez markaz,2020,p204.

19 Tareekhee Jabpohana,p,220.

20 H A Gleeson,Tawzeekhee Lisanyat,translated,AteeqAhmad,Lahore,Booktak,2018,p,456.

21 Da Pukhtunkhwa Lehje,p,88.

22 Faqir,Faqir Muhammad,A Linguistic Study of Khushal Khan Khattak,s Poetry in the light of Word formation,Ph.D Theses,Pashto Department,Peshawer University,2014-15,p136,

23 Faqir,Faqir Muhammad,Da Arabee toro Mufaghanat,Mashmoola,Takatoo,Pashto Department,Balochestan University,Jan-Jun 2018,p,100.